

# د ښاروالۍ کارېګر

لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

بخلیک: [illegible]

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د ښاروالۍ کاریګر

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - کب / کال ۱۴۰۵

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

ketabton.com - The Digital Library



# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

**پخښتۍ................................................................................. ۱**
**بسم الله الرحمن الرحيم ........................................................... ۲**
**ليکي پوهه:............................................................................... ۳**
**لړليک .................................................................................... ٤**
**تراڼ (پيل، شروع، بريد)............................................................ ٥**
**د يادښتونو له پاره:.................................................................... ۷**
**ناانډوله (ناول، کيسه يا داستان) ................................................ ۸**
**د چاپ شويو کتابونو لېست....................................................... ٦۲**
**د کار لاندې کتابونو لېست ...................................................... ٦٦**
**د امکان او وخت په صورت کې................................................. ٦۷**
**د پخښتۍ څښتن ..................................................................... ٦۸**

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

نن د مې د میاشتې لمړۍ او د نړۍ کاریګرانو ورځ ده، ما هم و غوښتل یوه بل حقیقي داستان یا ناول د یوه کاریګر په هکله چې کیسه یې په هېواد کې د ننه، ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ کې پیل شوې، وروسته بیا کابل ښار ته غزېدلې او دوام لري، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې دېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال دېر شي.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر
.........................

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر
..........................

**د يادښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ..........................................................................

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

انځرګل اکا د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په یوې بې وزلې (غریبې) کورنۍ کې ،سترګې دې نړۍ ته، و غوړوې(خلاصې کړې) .

پلار یې، پردۍ مزدورۍ کوې.

خپل کور یې، نه درلود.

د یوه کس په کور کې یې ژوند کاوه، کوم چې په پخوا پېر کې له هېواده وتی او په بهر کې اوسېده.

د کور خاوند ډېر ښه سړی او سر بېره د کور د اوسېدو نه، هغه ته به یې څه پیسې هم رالېږلې.

کله نا کله به یې خپل دهقان ته امر کاوه چې انځرګل ته، څه غنم او وریجې، د خوراک له پاره ورکړي.

د ژمي په وخت کې به یې د هغه د پاره کومه وچه ونه، د وهلو او د کور استعمال له پاره هم ورکوه.

د هغه ژوند په سختۍ تېرېده، مګر هغه په ژوند کې ډېر خوشحاله و.

هغه یوه زوی او دوې لوڼې(لورګانې) درلودې.

پر زوې یې منګل نوم ایښی و.

د لورګانو نومونه یې ګوتمۍ او کشمالۍ وو.

هغوی ورځ تر بلې، لوېدل او هوښیارېدل.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

څه موده تېره شوه.

په بهسودو ولسوالۍ کې حالات د نورو سیمو او ولسوالیو په څیر وران او ورو، ورو خلک په وتو شوو.

لمړی په حکومت کې نظامي کسان او د هغوی کورنۍ بیا وروسته د حکومت کارکونکي، معلمین، نور با سواده کسان او د هغوی کورنۍ دې ته اړ شوو چې، خپلې سیمې پرېږدي او د ښارونو مرکزونو ته، کډه شي.

انځر ګل اکا بې زده کړې و.

هغه غوښتل په خپلو او لادونو سبق و وایی او هغوی ښوونځي ته واستوي.

هغه به تل ویل:

بې زده کړې سړی، ړوند سړی او یا هم نه سړی دی.

د هغه ماشومان د ښوونځي د پاره چمتو وو.

هغه هېڅ کسب، نه درلود.

نه ترکاڼ او نه هم خټګر و.

د کروندو په کارونو هم نه پوهېد.

هغه به په کلي کي د کروندګرو سره، مرسته کوه.

کله به یې د غنمو او شولو، لو کاوه.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

په دوبي کې به يې د شولو نيال (کېنونه) کوه او په ژمي کې به د کليوالو ونې، په درېيمه وهې، ټوټې کوې او د هغوی کورونو ته يې وړې.

ژوند تېرېده.

هر چا به انځر ګل ته ويل:

تا خو ويل چې غواړم پر زوی او لوڼونو، سبق و وايم.

څه شو؟

د کلي ښوونځی دې هم، و سوځېد.

ته به کله او چېرته پر هغوی سبق و وايې؟

خبرې کول، اسانه کار دی، خو پلې کول يې، ستونزمن دي.

هغه به په سوچونو کې ډوبېده، سر به يې ټيټ اچاوه او چا ته به يې څه نه ويل.

کال بل هم تېر شوه.

ښوونځي، په پخواني حالت کې، پاتې شوو.

حکومت هم د سولې په ټينګښت کې، پاتې راغی او ښوونځي هماغسې وران او نور ښوونځي هم، ويجاړ او و سوځول شوو.

انځير ګل ډېر خواشينی او هيڅ يې د لاسه، نه راتلل.

څه موده، تېره شوه.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

د هغوي د دوستانو نه یوه کس چې په حکومت کې یې دنده درلوده او د انځر ګل اکا نږدې ملګری هم وه، ډېر کلک ناروغه او د جلال آباد ښار د صحت عامې په روغتون کې، بستر شو.

انځر ګل اکا و غوښتل د هغه پوښتنې ته، لاړ شي.

شپه یې په سوچونو تېره او سهار وختي له خوبه پاڅېد، لمړی یې اودس او بیا لمونځ یې په جمع ادا کړ.

کورته راغی، د سهار چای د څښلو نه وروسته د خان دېرې ته لاړ او یوه ګېډۍ د ګلابو ګلونو نه یې، جوړه او تازه لوخې یې ترې تاوې کړې او بیا د جلال آباد ښار د موټر اډې پر خوا یې حرکت وکړ.

اډې ته ورسېد او په یوه کوشني بس کې، کښېناست.

بس ژر ډک او د جلال ښار پر لور یې حرکت و کړ.

څنډ وروسته، ښار ته ورسېد.

بیا یې د هر کس نه، د صحتې عامې روغتون پتې، پوښتنه کوه.

په پوښتنو، پوښتنو یې، روغتون و موند.

روغتون ته، د ننه شو.

بیا یې د خپل دوست د بسترېدو ځای پوښتنه وکړه.

په خواریو یې وموند.

د هغه تر کټ کښېناست او غورې (ګپ، شپ) یې پیل کړ.

پوره یوه ګړۍ یې ور سره خبرې وکړې.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

په خبرو کې، د روغتون مسول ډاکتر راغی او د انځر ګل نه یې و غوښتل تر څو خبرې بندې او د ناروغانو د کوټې نه و وځي.

هغه خپل ملګری نه خدای پامانی واخیسته او د روغتون انګړ ته لاړ.

اوا (هوا) توده وه.

هغه لاړ، د یوې ونې سیوري ته یې خپل څادر اوار او پرې کښیناست.

ورو، ورو ونې ته نږدې او ډډ ته یې ډډه واچوه.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چه یوه بل کس هم راغی.

انځر ګل ته یې سلام واچوه.

انځر ګل هم، د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا هغه، د انځر ګل نه پوښتنه وکړه:

کولای شم، ستا تر څنګ ډډه واچوم؟

انځر ګل و ویل:

هو!

کومه ستونځه، نه شته.

هغه هم خپل څادر اوار او پرې کښېناست.

بیا د هغوي تر منځ خبرې، اترې پیل شوې.

دا سې سوچ کېده چې هغوی ډېر نږدې، خواږه ملګري او کالونو نه وروسته، سره یې لیدلي وي.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

..........................

هغه د کونړ و لایت اوسېدونکی او یوه ناروغ یې په روغتون کې بستر شوې و.

هغه هم د بدو حالاتو او جګړو نه، ناخوښی و او غوښتل یې جلال آباد ښار ته کډه وکړي.

د هغه ډېری خپلوان هم د کونړ نه، جلال آباد ښار ته کډه شوی، چا په حکومت او چا د ښار په بېلا بېلو سیمو کې لاس ګاډو باندې کار او بار پیل کړی او خپلې مزدوری یې کوې.

هغه هم هوډ درلود تر څو خپله ځمکه خرڅه او پر پیسویې څه کار و بار یا هټۍ جوړه کړي.

هغه هم د انځیر ګل په شان د زدکړو سره مینه درلوده او غوښتل یې چې خپل اولادونه، په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړي.

د هغوی په سیمو کې هم ښوونځي د وخت مجاهیدینو له خوا، سوځول شوي او څه ښوونکي هم، وژل شوی وو.

انځیر ګل هم د خپل د زړه خبرې د هغه سره ګډې او دواړه سره ملګري شوو.

انځیر ګل هغه ته و ویل:

ته خو فضل د خدای ده، څه جایداد لرې.

هغه و پلورې او پر هغه به څه کارو بار، جلال آباد ښار کې، پیل کړې.

زه خو هېڅ، نه لرم.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

د پردي په کور کې، پروت یم.

د چوکۍ دهقان یم، لرګي ماتوم او د کلیوالو، مزدوري کوم.

کس و ویل:

سوچ مه کوه.

خدای مهربانه دی.

بیا یې انځر ګل ته و ویل:

زما د تره زوی، د جلال آباد په ښاروالۍ کې اداري مدیر دی.

که غواړې، زه به تا له هغه سره ور وپیژنم.

کېدای شي هغه تا الته په دندې و ګماري.

انځر ګل خوشحاله شو او هغه ته یې و ویل:

څه وخت کولای شوو، هغه د نږدې وګورو؟

هغه و ویل:

همداوس کولای شو، الته لاړ شوو.

هسې تر ښاروالۍ پورې ډېره لار، نه ده.

په پښو به لاړ شو او په لارې کې به غورې هم و کړو.

انځر ګل و ویل:

سمه ده!

بیا کس و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

پاڅې چې ځوو.

لمړی هغه کس پاڅېد، خپل څادر یې و څانده او پر اوږه یې واچوه.

بیا انځرګل هم له ځایه پاڅېد، خپل څادر یې و څانده او پر اوږه یې واچوه.

بیا دواړه له ځایه روان او د روغتون نه، و وتل:

د پاخه سړک په خوا، مخ پر لمر ختو یې حرکت و کړ.

څو دکیکی وروسته، الته ورسېدل.

د ښاروالۍ انګړ دروازې مخې ته ودرېدل.

الته یوه کس څارونکی و.

له هغوی یې و پوښتل:

چېرته او له چا سره مو کار دی؟

کس و ویل:

غوړام د خپل تره زوی سره چې دلته اداري مدیر دی، وګورم.

کس و ویل:

ستا نوم څه دی؟

کس و ویل:

ورته و وایه د تره زوی دې ګل خان راغلی او غواړي له تا سره وګوري.

ketabton.com - The Digital Library



بیا کس انځر ګل ته و ویل:

ته د چا سره کار لرې؟

هغه و ویل:

زه د ګل خان سره یم.

ګل خان و ویل:

هو !

انځر ګل زما سره دی.

بیا یې، هغوی ته و یل:

تاسو پر دې اوږدې څوکۍ کښېنئ.

زه به یوه څوک وموم تر څو د ننه لاړ او د هغه نه د ننوتو اجازه واخلي.

هغوی و ویل:

سمه ده!

څو د کیکې تېرې شوې.

یوه کس چې د ښاروالۍ کارکونکی و، غوښتل یې د دروازې نه د باندې و وځي.

کس و ویل:

ته اداري مدیر پېژنې؟

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

..........................

کارکونکي، و ويل:

هو!

بيا کس و ويل:

کولای شي لاړ شي او اداري مدير ته و وايي چې د تره زوی دې ګل خان غواړي له تا سره وګوري؟

هغه و ويل:

هو!

سمه ده!

هغه لاړ او څو دکيکې وروسته، بېرته و راغی.

د هغه سره د اداري مدير چايچي هم دروازې ته راغی.

کس و ويل:

دوی کولای شي د چايچي سره د ننه لاړ شي.

بيا کارکونکی د دروازې نه د باندې او په خپلې موخې په سې لاړ.

ګل خان د انځر ګل سره ښاروالۍ ته د ننه شوو.

چايچي د مخه ګل خان او انځر ګل ورپه سې شوو.

لمړی هغوی د ښاروالۍ ودانۍ ته ننوتل، بيا د اداري مدير خونې (دفتر) ته د ننه شوو.

د ننوتو سره سم، د ښاروالۍ اداري مدير له ځايه پاڅېد او د ګل خان سره يې روغبړ وکړ.

ketabton.com - The Digital Library



بيا ګل خان، انځر ګل يې خپل د تره زوی ته ور وپېژاند او هغه يې خپل خوږ ملګری و ښود.

اداري مدير هغه ته، ښه راغلاست و وايه.

بيا يې هغوی ته پر څوکيو کښېناستو، بلنه ورکړه.

هغوی پر څوکيو کښېناستل.

اداري مدير، چايچي ته و ويل:

ميلمنو ته چای واچوه.

هغه هم دواړو ته چای په پيالو کې واچوه.

بيا اداري مدير د خپلې مخې ګوړې (ګړې) غاب هغوی ته نږدې کړ.

هغوی د چای په څښلو پيل کړ.

اداري مدير د خپل د تره زوی نه و پوښتل:

څنګه دېخوا دې، مخه وکړه؟

خيريت خو به وي؟

ګل خان و ويل:

خير او خيريت دی.

په روغتون کې مې يوه ناروغ درلود، د هغه پوښتنې ته تللی وم.

اداري مدير و ويل:

هو!

ketabton.com - The Digital Library



هغه زه هم پېژنم.

څو ورځې د مخه، زه هم د هغه پوښتنې ته، تللی وم.

خدای دې هغه ژر روغ کړي.

ګل خان زیاته کړه.

ما د خپل یوه پخواني ملګري انځرګل سره ولیدل کوم چې تر ونې لاندې ناست و.

انځر ګل ډېر ښه سړی دی او د بهسودو په ولسوالۍ کې د یوه خان په کورکې ژوند کوي.

هغه کوښښ کاوه چې پر خپلو اولادونو سبق و وایي، خو د بده مرغه

په سیمې کې نا خوالې ډېرې او ښوونځي وسوځول شوو.

انځر ګل اوس نا هیلی دی.

ما ورته و ویل:

ښه به دا وي چې په ښار کې کوم کار و مومې او پر اولادونو دې سبق و وایې.

هغه و ویل:

زه په کلي کې، د یوه خان په کور کې اوسېږم، کوم چې د هېواده د باندې ژوند کوي.

کومه پوله او پټی هم نه لرم، چې یې وپلورم او په ښار کې کوم کارو بار پرې وکړم.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

زما په یاد راغی، چې ته په ښاروالۍ کې دنده تر سره کوې، ګوندې کومه مرسته دې تر لاسه شي چې د انځر ګل سره وکړې او دی دلته د اجیر په توګه وګمارې.

هغه و ویل:

مونږ کاریګرو ته اړتیا لرو.

انځر ګل به دا ټیټه تنخوا او شاقه کار سره موافقه وکړي؟

انځر ګل و ویل:

هو!

بله لار، نه شته.

بیا انځر ګل و پوښتل:

څه کارونه به تر سره کړم؟

اداري مدیر و ویل:

ته به د ورځې له خوا د نور کاریګرانو سره ښار او کوڅو کې ګرځې او د ښار صفایي به کوې.

هغه و ویل:

سمه ده!

تنخوا به یې څو افغانۍ وې؟

هغه و ویل:

تنخوا یې پوره ۳۵۸ افغانۍ ده.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

........................

اداري مدير زياته کړه:

د کار پيل يې سهار اته بجې او تر مازيګر څلورو پورې به کار کوې.

د پنجشنبې ورځ د کار موده تر يوې بجې پورې ده، همدا راز د جمعې ورځ عمومي رخصتي ده.

هيڅوک کار نه کوي.

انځر ګل ډېر خوشحاله شو.

اداري مديرته يې و ويل:

زه نن بېرته کور ته ځم او د خپلې ښځې او ماشومانو سره خبرې کوم.

سبا به بيا، ستا حضور ته راشم.

اداري مدير و ويل:

سمه ده!

هر کله دې چې خوښه وي.

انځر ګل او ګل خان د اداري مدير نه مننه وکړه او هغه ته يې کورودانـي و ويل.

بيا ګل خان، انځر ګل له ځايه پاڅېدل او اداري مدير ته يې و ويل:

اوس غواړو بېرته خپلو کورونو ته، ستانه شوو.

اداري مدير هغوی ته د شپې د اوسېدو ست وکړ.

هغوی بيا د اداري مدېر نه مننه وکړه او ويې ويل:

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

مونږ په کورونو کې د شپې پاتې کېدو، څه نه دي ویلي، نو ځکه غواړو وختي حرکت وکړو.

اداري مدير و ويل:

سمه ده!

څرنګه چې مو خوښه وي.

بیا هغوی د اداري مدير سره خدای پاماني وکړه او د ښاروالۍ ودانۍ نه، و وتل.

ځنډ وروسته د ښاروالۍ انګړ نه د باندې شوو.

انځر ګل د خپل نوي ملګري نه ډېره، ډېره مننه وکړه او ويې ويل:

ستا لاره لرې ده.

راځه شپه له ما سره وکړه.

ګپ، شپ به ولګوو.

سبا به وختي د سهار د لمانځه نه وروسته، چای وڅښې بیا به خپل کور ته لاړ شې.

ګل خان و ويل:

مننه کوم.

ما هم د ستا په شان په کور کې څه نه دي ويلي.

بیا به ټول په سوچ (تشويش) کې شي.

ښه به دا وی چې زه هم، لاړ شم.

ketabton.com - The Digital Library



بیا دواړه د بهسودو اډې خوا ته، روان شوو.

انځر ګل خپله پته ګل خان ته ورکړه او هغه هم په یوه کوشنی کاغذ کې په یوه کس ولیکه او د واسکټ جب ته یې د ننه کړه.

بیا ګل خان د خپلې ولسوالۍ او کلي پته هم انځر ګل ته ورکړه او د هغه یې و غوښتل چې کونړ(کنړ) ته راشي او د کنړ د ښکلا نه خوند واخلي.

انځر ګل و منه او ګل خان ته یې و ویل:

سمه ده!

مننه کوم!

حتمي، یوه ورځ به درشم او شپه به له تا سره وکړم.

بیا یې سره خدای پاماني واخیسته او هر کس خپلې موخې په سې روان شوو.

انځر ګل د بهسودو موټرو اډې ته ورسېد.

هغه د یوه روسي جیپ موټر سر ته و خوت، څادر یې کېښود او په خپله پر هغه کېناست.

زنانه ټول د جیپ موټر د ننه وو.

څه نور نارینه هم، موټر ته وختل.

موټر ډک او بهسودو لور یې حرکت وکړ.

هغه د بلند غر بازار نه تېر شوه او په یوې سیمې کې چې د سپین جومات په نوم یادېده له موټر نه کوز او خپل کور خوا ته، روان شو.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

په شنو فصلونو او پټو کې یې مزل وکړ.

بیا کلي ته و رسېد.

کور دروازه خلاصه وه.

کور ته د ننه شو او برنډې خوا ته لاړ، چېرې چې د پاسه یې څپره او پر سر یې د انګورو تاک ښکلې لښتې ښکارېدې.

د څپرې لاندې یوه کټ پروت و.

انځر ګل کټ ته نږدې او پر هغه کښېناست.

د ښځې یې ورته پام شو.

د کوټې نه را و وته.

هغه ته یې ښه راغلاست و وایه.

بیا یې هغه نه د ناروغ پوښتنه وکړه.

انځر ګل و ویل:

هغه اوس ښه و.

بیا ښځې یې و ویل:

ته لږ دمه وکړه.

زه به درته شین چای راوړم.

هغه و ویل:

خیر اوسې.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

زه هم نن ډېر ستړی شوی یم.

ښځه یې د تناره کوټې ته لاړه، تر څو چای واېشوي (دم کړي)

په دې وخت کې یې زوی د باندې نه راغی، کوم چې غولکه یې په غاړه او یوه حلاله کړې مرغې یې هم په لاس کې وه.

پلار ته نږدې شو او هغه ته یې سلام ورکړ.

پلار یې هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا یې و پوښتل:

ټوله ورځ، چېرې وې؟

هغه و ویل:

د باندې وم.

ګوره!

یوه مرغۍ مې هم، و ویشته.

بیا د کچکول پلار راته حلاله کړه، که نه دا به هم مرداره شوې وه.

پلار یې ورنه پوښتنه وکړه:

ډوډۍ ته، راغلی وې؟

هغه و ویل:

نه!

بیا پلار یې و پوښتل:

ketabton.com - The Digital Library



ښه به وړی شوی یې؟

هغه و ویل:

نه!

ما سهار وختي له ځانه سره، جواری اخیستی و.

کوم وخت چې وږی شوم هغه مې وخوړ او بیا وروسته ویالې(بیالې) ته لاړم او څو غلپه اوبه مې هم و رپه سې و څښې.

اوس مې زړه ته، څه نه کیږي.

بیا زوی یې غولکه له غاړې را و وپسته.

اخوا، دېخوا د ونو ځانګو ته په کتلو یې پیل کړ.

څوشېبې وروسته یې مشره لور هم راغله.

هغه هم د باندې وه.

پلار ته، نږدې او هغه ته یې سلام ورکړ.

هغه هم د هغې سلام ته، وعلیکم و ویل:

بیایې د هغې نه هم پوښتنه وکړه:

ته چیرې وې.

هغې و ویل:

ما په کلي کې د خپلو همزولو سره، لوبې کوې.

نن مې بله لوبه چې پنجاق نومیږی، هم زده کړه.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

.........................

په دې خبرو کې ښځې يې، چاى راوړ.

چاى يې په پيالې کې واچوه او د خپل مېړه مخې ته پر خمکه کېښود. بيا يې د ګوړې (ګړې) غاب هغه ته، نږدې کړ.

مېړه يې و ويل:

ماشومانو ته هم پيالې راوړه.

هغې و ويل:

هله لورکۍ!

ټولې پيالې راوړه چې په ګډه سره چاى و څښو.

لور يې و ويل:

سمه ده!

هغه د تناره کوټې ته لاړه او څه څنډ وروسته پيالې يې په مجمې کې ايښې وې، راوړې.

بيا يې د پيالو مجمه پر ځمکې کېښوده.

مور يې چايجوش واخيست او د چاى په وېش يې پيل کړ.

بيا يې خپلې مشرې لور ته و ويل:

پيالې و ويشه!

هغې و ويل:

سمه ده!

ketabton.com - The Digital Library



هغې هم د مور د وینا سره سم د پیالو، پر وېش پیل کړ.

بیا موریې خپل مېړه ته و ویل:

مشره لور مو اوس کولای شي اوړه لامده کړي.

زه ورته کالی مینځل او پخلی هم ور یادوم.

هغې و ویل:

هو پلاره!

مور مې رېښتیا وایي.

زه غواړم د پخلي او اوړو لمدلو تر څنګ، خامک او کالي ګنډل هم زده کړم.

پلار یې و خندل او ویې ویل:

که خدای کول، ته به، ښوونځي ته هم لاړه شې.

هغې و ویل:

زمونږ ښوونځی خو سوځول شوی دی.

پلار یې و ویل:

هو!

زه کوښښ کوم چې ښار ته لاړ او الته څه کاروبار وکړم.

پیسې وګټم او په ښار کې کوم کرایي کور و نیسم.

بیا ښځې یې و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالی کاریګر

..........................

په ښار کې ژوند ګران دی.

هر څه په پیسو دي.

دلته خو، خس پیدا کیږي.

په بوټو هم کولای شو، تنور تود او پخلی وکړو.

اوبه هم پرېمانه دي.

پور هم، اخیستی شوو.

انځر ګل و ویل:

ستا خبرې سمې دي.

ته پوهیږې چې نن څه پېښ شو؟

هغې و ویل:

نه!

زه خو نه بزرګه نه یم او نه کومه ولي.

ته راته و وایه چې څه پېښ شوي دي.

هغه هم ټولو ته، کیسه پیل کړه.

هغوی هک پک شوو.

ټولو ته، پر زړه پورې زېری و.

هغوی خوشحاله شوو.

بیا ښځې یې و ویل:

ketabton.com - The Digital Library



تګ او راتګ به څنګه کوې؟

د موټرو کرایه هم لوړه ده.

هغه و ویل:

که کار وشو، زه به یوه بایسیکل و پېرم.

ښځې یې و پوښتل:

ته په بایسیکل پوهېږې؟

هغه و ویل:

نه!

بیا ښځې یې و ویل:

بیا څرنګه پر بایسیکل د ولسوالۍ نه ښار ته ځې.

انځر ګل و ویل:

خدای مهربانه دی.

دومره شیان مې چې یاد کړي دي، بایسیکل به هم یاد کړم.

ښځې یې زیاته کړه:

مونږ خو بایسیکل نه لرو.

یوه خر لرو چې هغه هم په پښه ګوډ (ګډ) دی.

انځر ګل، سوړ اوسېلی و باسه او ویې ویل:

د رحمن با با شعر دې اورېدلی دی؟

ketabton.com - The Digital Library



هغې و ویل:

کوم شعر؟

انځرګل و ویل:

چې غوټې په سې وهې په لاس به درشي
چا   وییل چې په دریاب کې ګوهر   نشته

ځو ورځې تېرې شوې.
انځر ګل بیا جلال آباد ښار ته لاړ.
د رسېدو سره سم ښاروالۍ اداري مدیر خونې (دفتر) ته لاړ.
د اداري مدیر سره یې ستړي مشې و کړه.
بیا اداري مدیر، هغه ته بلنه ورکړه تر څو پر څوکۍ کښېني.
هغه هم پر څوکۍ کښېناست.
بیا اداري مدیر د هغه نه و پوښتل:
کور کې دې مشوره وکړه.
انځر ګل و ویل :
هو!
د ټولو خوښه ده.
بیا اداري مدیر کاغذ واخیست.
له جبه یې کلم و باسه.
په خپل کلم (قلم) یې، هغه ته عریضه و لیکه.
دعریضې په پای کې یې د هغه د غټې ګوتې نښه واخیسته او هغه ته یې و ویل:
ته دلته کښېنه زه به ستا عریضه ښاروال صیب ته وړاندې او د هغه نه به ستا د مقررۍ امر واخلم.

ketabton.com - The Digital Library



انځرګل و ویل:
سمه ده!
بیا یې خپل چایچي ته و ویل:

انځرګل ته یوه پیاله چای راوړه.

چایچي و ویل:

سمه ده!

دستي به یې راوړم.

اداري مدیر له خونې و وت او د ښاروال دفتر خوا روان شو.

چایچي هم انځر ګل ته تود شین چای راوړ.

د ګوړې (ګړې) کوشنۍ چکۍ یې له جبه و وېسته او په لاسو نو یې ماته کړه.

یوه ټوټه یې د انځر ګل مخې ته، پر کوشني کاغذ کېښوده.

انځر ګل پر چای څښلو پیل کړ.

د هر غلپ مخکې به یې کوشنۍ ټوټه کړه په غاښو ماتوه او بیا وروسته به یې چای پسې څښه.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې اداري مدیر بېرته راغی او انځر ګل ته یې مبارکي و ویله.

په دې وخت کې نورو کارکونکو د اداري مدیر نه وپوښتل:

د څه شي مبارکي؟

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

سپینه یې و وایه، چې مونږ هم پوی شوو.

هغه و ویل:

انځر ګل سر له نن څخه، زمونږ سره د ښار د تنظیف کاریګر په توګه وټاکل شو.

ټولو په یوه غږ، هغه ته مبارکي و ویله.

انځر ګل هم د هغوی نه مننه وکړه.

بیا اداري مدیر انځر ګل ته و ویل:

ته اوس کولای شې کور ته لاړ شې.

سبا د اتو بجو نه مخکې دلته راشه او خپله تذکره دې هم راوړه.

انځر ګل و ویل:

سمه ده صیب!

د چای پیاله یې ټوله وڅښله او له ځایه پآڅېد.

د اداري مدیر نه یې خدای پاماني واخیسته او د ښاروالۍ د ودانۍ نه و وت.

د ښاروالۍ په انګړ کې یې څو کاریګر ولیدل چې جاړو ګانې یې په لاسونو او اخوا دېخوا په صفا کارۍ بوخت وو.

انځر ګل د هغوی څنګ ته، لاړ.

سلام یې ورکړ.

هغوی هم د انځرګل سلام ته، وعلیکم و ویل.

ketabton.com - The Digital Library



بیا یې و پوښتل:

د ستاسو کار خو به سخت نه وي؟

هغوی و ویل:

**نه!**

څه سختي لري.

آسانه او زنانه کار دی.

بیا یې انځر ګل ته و ویل:

ځنګه دې دا پوښتنه وکړه؟

لکه چې باشي مقرر شوی یې؟

هغه و ویل:

**نه!**

زه هم د ستاسو په شان د ښار د صفا کار په ټوګه دندې کې ګډ (شامل) شوم او سر له سبا نه به، خپل کار پیل کړم.

هغوی هم انځر ګل ته مبارکي و ویله.

انځر ګل خوشحاله او د هغوی نه یې مننه وکړه.

بیا یې د هغوی نه وپوښتل:

ټوله ورځ پر جاړو اخته یاست او یا کومه بله دنده هم تر سره رسوئ.

هغوی و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

د صفا کارۍ کارونه خورا ډېر دي.

لکه:

ویالو کیندنه، د کثافاتو ټولونه، لاس ګاډ کې د کثافاتو لیږدونه، جاړو او داسې نور کارونه.

انځر ګل و پوښتل:

زه یاد شوي کارونه سر ته، رسوی شم؟

هغوی په خندا شوو او ویې ویل:

ته هم عجیبه سړی یې.

داسې کارونه ماشومان هم تر سره کوی شي.

ته خو ځوان سړی یې او باید غر هم چپه کړې.

انځر ګل په خندا، د هغوی نه یې خدای پاماني واخیسته او د ښارولۍ د انګړ نه د باندې شو.

بیا یې له ځانه سره و ویل:

اوس خو دې مصرف کړی او د موټر کرایه دې ورکړې ده.

ښه به وي چې ملګری دې هم و وینی، بیا به په کراره (قراره) کور ته ستون شې.

ورو، ورو مخ پر روغتون یې حرکت وکړ.

څنډ وروسته، روغتون ته ورسېد.

انګړ ته د ننه شو.

ketabton.com - The Digital Library



ویې غوښتل چې د روغتون ودانۍ ته هم د ننه شي.

د روغتون د ودانۍ دروازې مسول کس هغه ته و ویل:

چېرې ځې؟

انځر ګل، و ویل:

د ملګري پوښتنې ته، ځم.

کس و ویل:

اوس د داکترانو د لیدنې وخت دی.

د ننوتو اجازه نه شته.

انځر ګل و ویل:

زه د لرې ځای نه، راغلی یم.

کس و ویل:

اوس امکان نه لري.

البته  د ونې لاندې کښېنه، د ډاکترانو لیدنه چې خلاصه شوه، زه تا ته غږ کوم.

بیا به ژر د خپل ملګری نه لیدنه وکړې.

انځر ګل، و ویل:

سمه ده!

هغه د ونو خوا، روان شو.

ketabton.com - The Digital Library



او کس ته يې و ويل:

زه تر هغې غتې ونې لاندې کښېنم، د داکټرانو ليدنه چې خلاصه شوه ما ته غږ کړه چې خپل دوست و وينم.

بيا به خپل کور ته، روان شم.

کس و ويل:

سمه ده!

انځرګل ونې ته نږدې شو، څادر يې پر ځمکه اوار او خپله پرې کښېناست.

هغه په سوچونو کې ډوب شو.

له ځانه سره يې و ويل:

اوس خو په دندې و ګمارل شوې.

تګ او راتګ به دې څنګه شي؟

کله به يې ويل:

د سهار لمانځه نه وروسته حرکت وکړم، تر اتو بجو پورې رسېدی شم.

بيا به يې له ځانه سره و ويل:

د موټر کرايه به څنګه شي؟

بيا به يې و ويل:

بايسيکل به له کوم ځای او څرنګه به يې زده کړم؟

ketabton.com - The Digital Library



په سوچونو کې ډوب و.

کس تر خوا یې راغی او انځر ګل ته یې و ویل:

څه په سوچو نو کې ډوب یې؟

ژر شه خپل ملګری دې و وینه او بېرته و وځه چې داکټران په غصه کېږي.

د ناروغانو د لیدنې وخت د غرمې دولس بجو نه تر ماسپښین یوې پورې او بیا وروسته د څلور بجو نه وي.

انځر ګل له ځایه پاڅېد.

خپل څادر یې و څانډه او اوږې ته یې واچوه.

بیا چابک، چابک د کس په سې روان شو.

د روغتون ودانۍ ته د ننه او د خپل ملکري خونې ته ننوت.

ملګری یې بیده وه.

ورو، ورو د هغه کټ ته نږدې شو او هغه یې وخوزاوه.

ملګری یې ویښ شو او د هغه سره یې روغبړ وکړ.

بیا یې د هغه سره لنډه مرکه هم وکړه.

په دې وخت کې یوه داکټر راغی او انځر ګل ته یې و ویل:

ژر سه د خونې و وزه.

اوس د لیدنې وخت نه دی.

ketabton.com - The Digital Library



انځر ګل و ویل:

زه دبل ولایت نه راغلی او نه شم کولای تر غرمې پاتې شم، بیا پر ما ناوخته کیږي.

داکتر و ویل:

پوی شوم.

اوس خو دې خپل دوست ولید.

کولای شې د خونې و وځې.

انځر ګل و ویل:

سمه ده !

اوس به و وځم.

بیا یې د خپل ملګری سره خدای پاماني وکړه او د روغتون د ودانۍ نه د باندې شو.

لمړی د روغتون انګړ بیا د هغه ځای نه هم ووت او د بهسودو موټرو اډې خوا ته، روان شو.

غرمه نږدې او هغه ډېر وږی شوی و.

اوا لږ توده وه.

څادر یې په سر واچوه او ګامونه یې ګړندي کړل.

ورو، ورو اډې ته، نږدې شو.

د سیمې موټر ته یې ځان ورساوه.

ketabton.com - The Digital Library



په موټر کې څو کسان ناست و.

یوه ګړۍ تېره شوه.

موټر ډک شو، او مخ پر بهسودو یې حرکت وکړ.

ماسپښین خپل کور ته ورسېد او د نن ورځې تېره شوې کیسه یې خپلې کورنۍ سره شریکه کړه.

ټول خوشحاله شوو.

شپه یې په سوچونو پیل او بیا وروسته بیده شو.

سهار وختی له خوبه پاڅېد.

لمړی یې اودس او بیا د جمع له پاره جومات ته لاړ.

د لمانځه ادا کولو نه وروسته بېرته کورته راغی، یوه ډوډۍ، یوه غوټه پیاز او لږ مالګه یې په یوه دسمال کې تاوه او غوټې کړه.

بیا یې له ځانه سره واخیسته او د کور نه د باندې شو.

په منډو، منډو ځان یې پوخ سړک ته ورساوه او د موټر په انتظار شو.

موټر ورسېد او انځر ګل هم موټر ته وخوت.

څنډ وروسته ښار ته ورسېد.

لمر نوی مخ پر ختو و.

د یوه کس نه یې پوښتنه وکړه:

څو بجې دي؟

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر
..........................

کس و ویل:

ګړۍ (ساعت) نه لرم.

بیا یې د بل او بل .............. نه پوښتنه وکړه.

تر ځو یوه کس یې پیدا کړ چې ګړۍ یې درلوده.

هغه ورته و ویل:

سهار پاو باندې شپږ بجې دي.

انځر ګل خوشحاله شو.

ورو، ورو مخ پر ښاروالۍ روان شو.

د اډې نه تر ښاروالۍ پورې پنځلس دکیکي، په پښو مزل و.

انځر ګل پوره شپږ نیمې بجې ښاروالۍ ته ورسېد.

د ښار والۍ انګړ دروازه تړلې وه.

انځر ګل لمړی کس و چې ښاروالۍ ته ورسېد.

دروازه یې وټکوه.

د ښاروالۍ امنیتی ساتونکي دروازه خلاصه او د هغه نه یې پوښتنه وکړه:

ځوک او د چا سره دې کار دی؟

انځر ګل و ویل:

زه د ښار والۍ نوي کاریګر یم.

ketabton.com - The Digital Library



ساتونکي و پوښتل:

نوم دې څه دی؟

هغه و ویل:

نوم مې انځر ګل دی.

بیا ساتونکی له جب نه خپل لیسټ و باسه او د نومونو په لوستلو یې پیل کړ.

لیسټ یې تر پایه ولوست مګر د انځر ګل نوم یې په لیسټ کې و نه موند.

انځر ګل ته یې و ویل:

و بښه!

ستا نوم په لیسټ کې نه شته.

انځر ګل، و ویل:

زه پرون په دندې ګمارل شوی یم.

کېدای شي زما نوم یې له هېره وتی وي.

ساتونکي و ویل:

کېدای شي.

ښه به دا وي چې اداري مدیر تر راتګه د دروازې تر اړخ انتظار وباسې.

انځر ګل و ویل:

ketabton.com - The Digital Library



**سمه ده!**

اداري مدیر ما پېژني.

بیا ساتونکي دروازه وتړه او انځر ګل دروازې تر څنګ د باندې څادر واچوه او پرې کېښېناست.

ګړۍ اووه، بیا پاو باندې اووه، اووه نیمې او بیا پاو کم اته بجې شوې.

د ښاروالۍ کارکونکو پر راتګ پیل کړ.

یوه به بل پسې رسېدل او انګړ ته، د ننه کېدل.

څو دکیکې نورې هم تېرې شوې.

د لرې یې اداري مدیر ولید چې ښاروالۍ خوا روان دی.

انځر ګل ډېر خوشحاله شو او له ځایه پاڅېد.

اداري مدیر ښاروالۍ انګړ دروازې ته ورسېد.

انځر ګل هغه ته سلام ورکړ.

هغه هم د انځر ګل سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا اداري مدیر انځر ګل ته و ویل:

لکه چې وختې راغلی وې؟

انځر ګل و ویل:

پوره ښپږ نیمې بجې دلته ورسېدم.

د ننوتو اجازه مې، تر لاسه نه کړه.

ketabton.com - The Digital Library



ځکه، زما نوم په لیسټ کې نه و.

اداري مدیر و ویل:

ستونزه نه شته.

نن به یې په لیسټ کې ګډ کړم.

بیا یې انځر ګل ته و ویل:

راځه!

نن زما سره د ننه او سر له سبا کولای شې یوائې هم د لیسټ سره سم ښاروالۍ ته د ننه شې.

انځر ګل د اداري مدیر نه مننه وکړه.

اداري مدیر مخکې او انځر ګل هم ور په سې شو.

دواړه د اداري مدیر خونې (دفتر) ته د ننه شوو.

انځر ګل ته یې و ویل:

الته پر څوکۍ کښېنه تر څو د صفا کارانو مشر راشي، ته سر له ننه مېلمه نه، بلکه د ښاروالۍ کاریګر یې.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې د صفا کارانو مشر ورسېد.

د روغبړ نه وروسته یې هغه ته انځر ګل ور وپېژاند.

هغه انځر ګل ته و ویل:

راځه!

ketabton.com - The Digital Library



زما خونې (دفتر) ته لاړ شوو.

انځر ګل له ځایه پاڅېد او د صفا کارانو مشر سره د هغه کوټې ته ننوت.

البته ډېر کسان او کاريګرانو شتون درلود.

انځر ګل یې په یوه ګروپ کې ګډ او د ګروپ د مشر نه یې و غوښتل تر څو هغه د حاضرۍ، دندو او اړوندو سیمو سره بلد کړي.

د ګروپ مشر د هغه نوم یې د خپل په لیسټ کې ګډ(شامل) کړ.

بیا یې د هغه نه وپوښتل:

لاس ګاډي سره خوشحاله یې که د بېلچې سره.

هغه و ویل:

زه لاس ګاډی نه شم چلولی.

ښه به دا وې چې ما ته بېلچه راکړې، تر څو پر هغې کار وکړم.

بیا د ګروپ مشر خپلو غړو ته و ویل:

راځئ چې ګودام (ډیپو) لاړ شوو.

هغوی ټول ګودام ته لاړل.

هر کس د پخوانیو لیسټونو پر بنسټ خپل د کار وسایل یې واخیستل او لرې ودرېدل.

بیا د ګروپ مشر وړاندې او مسول کس ته یې و ویل:

انځر ګل زمونږ نوی کاريګر دی.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

هغه ته بېلچه ورکړه.

د ګودام (ډیپو) مسول د هغه نوم په سې بیلچه ولیکه او هغه ته یې و ویل:

هر سهار د خپلو ملګرو سره راځه او بېلچه اخله، بیا مازیګر مخکې د رخصتۍ نه، هغه بېرته، دلته راوړه.

هغه و ویل:

سمه ده!

انځر ګل پر خپل کار پیل کړ.

هغه پر کار مین و.

د ټولو نه به وختي دندې ته، ته او تر پایه به یې، کار کاوه.

پر لږ وخت کې، په ټولو باندې ګران شو.

میاشت پوره او هغه خپله لمړنۍ تنخوا واخیسته.

هغه ډېر خوشحاله شو.

هغه په کلي کې هم، لږ لږ کار کاوه.

د پخوا په شان به یې لرګي ماتول.

د غنمو اوشولو لو به یې کاوه او په دوبي کې به یې د شولو نیال هم کاوه.

هغه د خپل تګ راتګ د اسانتیا له پار یوه کارولشوی (دوېیم لاس) بایسیکل واخیست.

ketabton.com - The Digital Library



د ټولو پیسو ورکولو وس یې، نه درلود.

څه پيسې يې ورکړې او د بايسيکل خاوند ته يې و ويل:

څنګه چې پوهيږې، زه يوه غريب سړی يم.

د بايسيکل ټولې پيسې نه شم ورکولای.

نورې به يې در ته په قسط درکړم.

د بايسيکل خاوند ومنه او هغه ته يې و ويل:

لږ، لږ پيسې دې چې په لاس درغلې، ما ته يې راکوه.

انځر ګل و ويل:

سمه ده!

هغه بايسيکل واخيست او د موټرو اډې خوا روان شو.

بايسيکل يې د اندل نه نيولې، کله به ترې يوې خوا او کله به ترې بلې خوا، ته، ته.

ځينو کسانو به ورته ويل:

څه بايسيکل له ځانه سره کشکارې، پر هغه سپور شه.

هغه به ويل:

دا مې نوی اخيستی دی.

زما بايسيکل چلول ياد، نه دی.

بيا به خلکو ويل:

ketabton.com - The Digital Library



د څه د پاره دې اخیستی دی؟

هغه به ځواب ورکاوه او ویل:

غواړم بایسیکل یاد او پر هغه دندې ته لاړ او بېرته کور ته لاړ شم.

انځر ګل بایسیکل په ستونزو سره تر اډې ورساوه.

بیا یې د موټر په جنګله، کېښود او په څادر یې کلک و تاړه.

څنډ وروسته موټر ډک او حرکت یې وکړ.

خپلې سیمې ته نږدې یې پرچلونکي، غږ کړ.

کوزېږی.

چلونکي و ویل:

سمه ده!

موټر غاړې ته کړم.

چلونکي موټر غاړې ته کړ او بیا یې انځر ګل ته و ویل:

اوس کولای شې له موټره کوز شې.

انځر ګل له موټره کوز او چلونکي ته یې و ویل:

لږ صبر وکړه چې بایسیکل مې هم کوز کړم.

چلونکي، و ویل:

سمه ده!

ketabton.com - The Digital Library



.........................

کوم وخت دې چې بایسیکل کوز کړ پر ما غږکړه چې حرکت و کړم.

انځر ګل و ویل:

سمه ده!

زه غږ کوم.

انځر ګل خپل بایسیکل د موټر له جنګلې کوز کړ.

د موټر کرایه یې ورکړه او خپلې موخې په سې، روان شو.

هغه په خوشحالۍ سره خپل کور ته لاړ.

ما شومانو یې هم د بایسیکل په لیدو سره خوشحاله شوو.

هغه د کلي ځوانانو نه مرسته وغوښته چې د هغه سره د بایسیکل په یادولو کې مرسته وکړي.

هغه به سهار وختی په پولو کې بایسیکل یاداوه.

میاشت تېره شوه.

هغه څه ناڅه بایسیکل یاد کړ.

لمړی به یې په پولو ځغلاوه او بیا وروسته، سړک ته راوا ته.

میاشت بله هم تېره شوه او هغه په بایسکل چلولو پوی شو.

بیا به هغه پر بایسکل باندې، دندې ته، ته او راته.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

هغه به هره ورځ کوښښ کوه چې جلال اباد ښار کې، کوم وړیا کور د اوسېد له پاره و مومي، تر څو خپل ماشومان هم الته یوسي او پر هغوی ښوونځی و وایي.

وختونه تېر شوو مګر هغه و نه توانېد چې کوم کور ومومي.

په سیمې کې حالات نور هم مخ په ورانېدو شوو.

انځر ګی ته تګ راتګ ستوزمن شو.

ټول پوهېدل چې هغه په ښاروالۍ کې (حکومت) کې دنده تر سره کوي.

د هغه سوچونه (تشویش) ورځ تر بلې ډېرېده او بېرېده چې د وخت مجاهدین هغه د حکومتي دندې په تړاو، و نه وژني.

خان په کابل کې هم، کور درلود.

هغه د خان سره اړیکه ټینګه کړه او د هغه یې وغوښتل چې د کابل کور د هغه په واک کې ورکړي.

خان هغه ته و ویل:

زه کومه ستونزه نه لرم.

ته کولای شې الته لاړ او و وسېږې.

په کابل کې ژوند ډېر ګران او هر څه په پیسو دي.

د تګ نه مخکې باید کوم کار و مومې، بیا الته لاړ شې.

انځرګل و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

سمه ده!

زه غواړم د جلال اباد ښاروالۍ نه ځان کابل ښاروالۍ ته تبدیله کړم.

خان و ویل:

ستا خوښه!

څو ورځې تېرې شوې.

هغه د اداري مدیر نه د تبدیلۍ لیک تر لاسه کړ او پر سبا یې کابل ښار ته لاړ.

الته د کابل ښاروالۍ اړونده کس ته یې لیک و ښوده او خپل د زړه خبرې اوپلانونه یې، ور سره ګډ کړل.

د هغه هم پر انځر ګل زړه وسوزېد.

هغه ته یې و ویل:

زه کولای شم چې ستا د پاره هغه دنده دروسپارم کومه دې چې په جلال آباد کې درلوده.

انځر ګل و پوښتل:

تنخوا یې څومره ده؟

کس و ویل:

حکومتی تنخوا، یوه شان ده.

څو کاله چې تېر کړې، بیا به یې څه لوړه کړم.

انځر ګل مننه وکړه او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



کله پر دندې پیل کولای شم.

کس و ویل:

دوې ورځې وروسته راشه او پر دندې دې پیل کړه.

هغه د کس نه خدای پامانی واخیسته او د ښاروالۍ د ودانۍ نه و وت او خان د کور پټې خوا روان شو.

د خان کور د کابل ښار په اوسنۍ شپاړسمې سیمې (ناحې) کې شتون درلود.

کور یوه پوړ او د اومو خښتو او خټو نه په یوه انګړ کې، جوړ شوی و.

انځر ګل کور، په ډېرو پوښتنو و موند.

کور بند او کیلۍ یې د ګاونډ سره وې.

د ګاونډ کور دروازه یې وټکوه.

یوه ماشوم دروازې ته راغی او دروازه یې خلاصه کړه.

انځر ګل و ویل:

کور کې کوم مشر نارینه شته؟

الک ځواب ورکړ:

هو!

پلار مې په کور کې دی.

انځر ګل و ویل:

ketabton.com - The Digital Library



پلار ته دې غږ کړه!

الک و ویل:

سمه ده!

څو دکیکې وروسته د الک پلار دروازې ته راغی، دروازه یې خلاصه او یوه نا پېژند کس یې تر سترګو شو.

انځر ګل هغه ته سلام ورکړ.

کس هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې د انځر ګل نه پوښتنه وکړه:

د چا سره دې کار دی؟

انځر ګل خپل ځان ور وپېژاند او د هغه یې و غوښتل چې د کور کیلۍ هغه ته وسپاري.

کس د انځرګل نه د خان په هکله پوښتنې وکړې او انځر ګل هم هغه ته رټ ځوابونه ورکړل.

په پای کې، کس و ویل:

سمه ده!

کولای شې خپله کډه راوړې.

زه به کیلۍ په کور کې پرېږدم، کوم وخت چې راغلې، هغه به واخلې.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

...........................

انځر ګل مننه وکړه او د هغه نه يې خدا پاماني واخيسته او د ننګرهار د موټرو اډې پر لور يې حرکت وکړ.

ماسپښين ناوخته په موټر کې کښېناست او ماسخوتن ناوخته، جلال اباد ښار ته ورسېد.

شپه يې د خپل ملګري کوم چې يې په ګروپ کې دنده تر سره کوه، تېره کړه.

سبا خپلې دندې ته لاړ او د اداري مدير خونې (دفتر) ته ننوت.

په خوشحالۍ سره يې سلام ورکړ.

هغه د انځر ګل سلام ته وعليکم و ويل.

بيا يې ترې پوښتنه وکړه:

کابل ته تللی وې؟

انځر ګل خپله تېره شوې کيسه هغه ته په لنډه توګه بيان کړه.

اداري مدير هم ډېر خوشحاله شو او انځر ګل ته يې و ويل:

ښه شو چې ستا کار وشو.

الته امن دی، ښار دی، کارونه هم ډېر دي.

ته کولای شې د رسمي دندې نه وروسته، کوم بل کار هم وکړې.

انځر ګل و ويل:

سمه ده!

مننه کوم، توکل پر خدای.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

........................

بيا اداري مدير وپوښتل:

کله کېږه باروې؟

هغه و ويل:

سبا، له خيره.

بيا اداري مدير هغه ته و ويل:

نن خپلې دندې ته دوام ورکړه، لږ وختي راشه او اخيستي وسايل دې ډيپو چي ته وسپاره.

هغه و ويل:

سمه ده!

لږ ځنډ وروسته د دفتر نه و وت او د خپل ګروپ کاريګرو سره يوه ځای او سيمې ته لاړل.

ماسپښين وختي راغی او خپل ټول وسايل يې د ښاروالۍ ډيپوچي ته تسليم کړل.

بيا يې د اداري مدير او نورو کسانو نه خدای پاماني واخيسته او خپل کور ته روان شو.

کور کې يې کيسه ټولو ته بيان او د کابل د دندې او ژوند پيل يې مبارکي و ويل.

کورنۍ يې هم ډېره خوشحاله شوه.

بيا انځر ګل و ويل:

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

.........................

سهار وختي وروسته له لمانځه نه، کالي ټول او زه به څو خره د ګاونډيانو نه راولم تر څو کالي پرې بار او تر پاخه سړک پورې يې ورسوو.

ټولو و ويل:

سمه ده!

شپه تېره شوه.

سهار ټول وختي له خوبه پاڅېدل، لمونځونه يې ادا کړل او بيا د کاليو پر ټولولو بوخت شوو.

انځر ګل هم د ګاونډيو کورونو نه دري خر راوستل، کالی يې پرې بار او کلک و تړل.

د چرګانو پښې يې وتړې او هغه يې هم د کاليو پر سر کېښوې.

د ګاونډيانو سره يې خدای پامانی وکړه او د کور کيلۍ يې يوه مشر ګاونډ ته ورکړې.

بيا يې مشر ګاونډ نه وغوښتل تر څو خپل زوی د هغوی سره ولېږي چې خره بېرته کلي ته راولي.

مشر ګاونډ خپل زوی ته غږ او د هغه يې وغوښتل تر څو د انځر ګل سره تر پاخه سړکه لاړ او خره بېرته کلي ته راولي.

زوی يې و منه.

انځر ګل، د هغه ښځې او اولادونه د کلي کسانو سره يې خدا پاماني وکړه او د کلي نه روان شوو.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

..........................

د انځر ګل، د ښځې په سترګو کې اوښکې څرخېدې او اوښکې به یې په څادر او ټیکري پاکوې.

هغوی ورو، ورو پاخه سړک ته ورسېدل.

بار یې د خرو نه کوز او د پاخه سړک غاړې ته کېښود.

خره یې د مشر ګاونډ زوی ته وسپارل تر څو بېرته یې کلي ته ورسوي.

هغوی د موټر په انتظار شوو.

دوې ګړۍ وروسته یې موټر وموند ترڅو کالي په کې بار او د کابل ښار تر اډې پورې یې ورسوي.

ګړۍ وروسته هغوی کابل اډې ته ورسېدل.

کالي یې کوز او د کابل په موټر کې یې بار کړل.

څنډ وروسته موټر ډک او د کابل پر لور یې حرکت وکړ.

درې ګړۍ وروسته کابل ته ورسېدل.

بیا یې کالی کوز او په کوشنۍ چکلې موټر کې کالی بار او د خان د کور پر لور یې حرکت وکړ.

نیمه ګړۍ وروسته هغوی د خان کور ته ورسېدل.

د ګاونډ د کور نه یې کیلۍ واخیستې او کالی یې د ننه کړل.

کالي یې په دوو کوټو کې اوار کړل.

هغوی ډېر ستړی شوي وو.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

ګاونډیانو، هغوی ته چای دم او له کټغ سره یې راوړ.

هغو د شپې ډوډۍ کومه چې ګاونډیانو ورته راوړې وه، وخوړه.

هغوی وختی بیده شوو.

سهار وختی لمانځه ته پاڅېدل.

لمونځونه یې ادا کړل او د کالیو ځای پر ځای کولو یې پیل کړل.

لمر په راختو شو.

ګاونډیانو هغوی ته د سهار چای د کابل نانوايي تودې ډوډۍ سره راوړ.

هغوی چای وڅښه، د ګاونډیانو لوښي یې بېرته ورکړل او د هغوی نه یې مننه وکړه.

انځر ګل هم له کوره ووت او کابل ښاروالۍ ته لاړ.

الته یې د خپلو اسنادو پوښتنه وکړه.

هغه ته یې و ویل:

سر له هفتې خپلې دندې ته لاړ شه.

ستا دنده هم د قلعه زمانخان سیمې پورې اړه لري، کومه چې ستا د اوسېدو ځای ته نږدې ده.

انځر ګل مننه وکړه او د کابل ښاروالۍ نه د باندې او کورته روان شو.

د هفتې (شنبې) پر ورځ یې په کار پیل کړ.

ketabton.com - The Digital Library



څه موده تېره شوه.

د ښوونځي په لټه شو.

اوسېدو کور ته یې نږدې ښوونځی نه و.

د ده خدایداد سیمې کې ښوونځی و.

هغه الته لاړ او د ماشومانو د ښوونځي په هکله یې، د ښوونځي مدیر سره خبرې وکړې.

هغه ورته و ویل:

ستا د ماشومانو عمرونه لوړ شوي دي.

ښه به دا وې چې د سواد زده کړو په کورسونو کې ګډ کړئ.

بیا انځر ګل وپوښتل:

دلته نږدې د سواد زده کړې کورسونه شته؟

هغه و ویل:

نه!

دلته نږدې کورسونه، نه شته.

ته دسیمې ملک (وکیل) سره خبرې وکړه، کېدای شي هغه کومه لاره و مومي.

وختونه تېر شوو.

د ماشومانو عمرونه، نور هم ډېرشوو.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

لور یې واده شوه.

بیا بله لور یې هم واده شوه.

هغه د خپل زوی ته هم، واده وکړ.

خپل زوی یې هم د سیمې ښاروالۍ کې پر دندې وګماره.

څو کاله تېر شوو.

هغه ډېر کلک ناروغه او کال وروسته له ارمانو سره مړ شو.

زوی یې دندې ته دوام ورکړ.

هغه هم د ماشومانو خاوند شو.

ماشومان یې د ښوونځي شوو.

سیمې کې نوې ښوونځي جوړل شوو.

د انځر ګل ارمان، زوی یې پوره او د هغه لمسیان یې په ښوونځي کې ګډ کړل.

د هغه لمسیان ښوونځي ته ځي.

او کېدای شي لوړې زده کړې وکړي او خپل هېواد ته ګټور شي.

د انځر ګل زوی، اوس هم ژوندی او د ښاروالۍ شپاړسمې سیمې (ناحې) کې دنده تر سره کوي.

ما شومان یې د خپل پلار دندې په هکله له شرمه چا ته نه وایي چې خلک پر هغو ونه خاندي، مګر پلار یې هغوی ته وایي:

دنده، دنده ده.

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاریګر

.........................

زه او زما نور ملګري د ښار پاکوالي له پاره کارکوي، کوم ګټورکار چې کثافات لرې کوي، سړکونه جاړو کوي، ونې کېنوي او شاوخواد چاپېریال نه، ساتنه کوي.

**پای**

ketabton.com - The Digital Library

د ښاروالۍ کاريګر

..........................

**د چاپ شويو کتابونو لړست**

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتيد انستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاريه / دنيای انجينری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقيقی با مقياس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنيا نگذاری اولين مساجد توسط افغانها در آسترليا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

ketabton.com - The Digital Library



۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

ketabton.com - The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګرۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦۰. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦۱. دخاخکو هار (د یوه سړي لندې کیسې)

ketabton.com - The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینی انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاریګر

ketabton.com - The Digital Library


..........................

**د کار لاندې کتابونو لېست**

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٢. لیونی لپوه
٣. د خاورو لاندې ښار
٤. سپین کارغه
٥. سور تنور
٦. خړه بیزو
٧. بندي مرغه
٨. بې وخته باران
٩. د ژوند پای

ketabton.com - The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

ketabton.com - The Digital Library

# Municipal worker

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:**Februry-March /2027

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*